مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله ارینزی ۲۰۲۳/۱۰/۲۲

د وردګو د واده دود او بدلې

شپږمه برخه

د وردګو د واده دود

په وردګو کې ولور اوس – اوس په منځنی توګه 4 – 5 لکه افغانی(شاوخوا اووه لکه کلداری) ته رسیږي؛ خو لږ یا ډېری هم اخستل کېږي(1). له بده مرغه دا شل کاله کېږي چې په وردګو کې د راکړې ورکړې ډېر کارونه په کلدارو کېږي. ولور غالباً د خیښی په دواړو خواوو پورې اړه لري. که چېرته پېغله په کومه ستره یا شتمنه کورنۍ پورې اړه ولري او یا د پېغلې کورنۍ نوم او پېژندګلوي ولري او یا پېغله ډېره ښایسته وي ولور یې هم زیات وي. ښکاره خبره ده چې په وردګو کې هېڅکله یوه بېوزلی یا نېستمنه یا د ټېټ ټولنیز دریځ خاونده کورنۍ د داسې کور پېغلې ته زړه نه ښه کوي او مرکه نه ورلېږي. که دا موضوع لږ نوره هم وڅېړل شي؛ نو باید ووایو چې د وردګو ټولنه طبقاتي جوړښت لري چې هر څوك پکې خپل داسې ځای او دریځ لري چې ژر نه بدلېږي او ډېر وخت ته اړتیا لري.
د ولور په هکله د سیمې سپین ږیري دوه- دری لامله یادوي. یو لامل چې پلار په لور ولور اخلي دا دی چې خپل زوی ته واده پرې وکړي، دویم د لور پلار دومره پوروړی او نېستمن وي چې غواړي د لور په ولور خپل پورونه خلاص کړي او یا یې دری- څلور کاله لاس وچلېږي او د کور د خرڅ وس ومومي او په پای کې غټ لامل دا دی چې که څوك خپله لور بې ولوره واده کړي او یا لږ ولور پرې واخلي، نو کلیوال او نور خلك به تبصرې کوي چې دا پېغله ناروغه وه، عمر یې زیات شوی و، کومه (خو) یا عیب یې درلود او داسې نور؛ ځکه یې وړیا یا په ارزانه ورکړه چې بیا به بل مېړه ورته پیدا نه شي.
د وردګو د واده په پوښ کې د پېغلې د جامو او نورو شیانو اندازه نه ټاکل کېږي. دا د زوم د کورنۍ کار دی چې پېغلې ته څومره جامې، ګاڼې، د سینګار سامان او نور ضروري توکي اخلي. په پوښ کې د پېغلې د خپلوانو جامې (کمیسونه او ټکري)، د څیري رخت، نکریزې او نور شامل وي. کمیسونه شل- پنځه ویشت وي چې لس یې اصیل یعنې عربي او فرانسوي ټوکران او نور یې معمولي رختونه وي. پوړني یا ټکري پنځه متره وي.
په توی کې غوښه (ژوندي څاروي یا بوده، په منځنۍ توګه 20 -35 منه، هر من 16 پاوه یا 7 کیلو)، وریجې (چې لږ دود دي)، اوړه (30- 50 منه)، مېوه (15 – 25 منه) چای، بوره (چې دواړه لږ دود دي) او ډېر نور شیان منل کېږي. په همدې غونډه کې چې په پای کې یې د پېغلې کورنۍ خپلو نویو خېښانو ته شریني یا ځوندی(2) ورکوي. د ستنې د وړلو یا ناستې او ودوزن تقریبي نېټې هم ټاکل کېږي.
په هر صورت د دغه خبرو او منلو په پای کې دواړه خواوې لاس پورته کړي او (دعا) وکړي(3). تر دعا وروسته خېښان په داسې حال کې چې ځوندی یا د ښادۍ کومه بله کوچنۍ نښه یې د یوه سړي په لونګی کې ټومبلي وي رخصتېږي او که چېرته شرایط سم وي، د خپلې خوښۍ د څرګندولو او د خلکو د خبرتیا له پاره د ټوپك یا تومانچې څو ډزې هم کوي. شرایط مو ځکه یاد کړل چې که چېرې د پېغلې په کور، نژدې کلي او یا خپلوانو کې مړی شوی وي او په اصطلاح د هغه ویر لا نه وي سوړ، نوي خېښان د دغه مړي په درناوي کې د پېغلې په کور - کلي(4) کې ډزې نه کوي؛ خو کله چې خپل کلي ته نژدې شول، که چېرته هلته هم ورته بندیز نه وي؛نو ښې پریمانه ډزې کوي او حتی کېدای شي چې ډوډۍ ګاڼې پخې کړي، ډمان کینوي او سوبتونه وکړي(5)
کله چې په (دعا) تللې خلك بریالي، کلي ته ستانه شي په ډزو سربېره، بدلې بولي او اتڼونه کوي او خلك په روځو- روځو مبارکې ته ورځي، دا هم د دې وخت یو څو بدلې:

اوس به د پلپل پاڼې مړې وکا
اوس به د (...) ټوپك شغلې وکا
*
د مېپینو پاولو ډك مه شې ګرېوانه
ښادي دې مبارك شه (....) خانه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له دې (هوکې) او (دعا) وروسته د دوه کورنیو تر مینځ د خبنۍ درانه دودونه پیل شي. هلته د ځوان په کورنۍ کې خوشالي وي، دریاوې وي، بدلې وي او ډله- ډله نر او ښځې خپلوان او کلیوال د مبارکې له پاره روځې او خپله خوشالي د ځوان له مور، پلار؛ خویندو، تره، د تره له زامنو او نورو نژدې کسانو سره شریکوي.
څو روځې وروسته د ځوان د کورنۍ له خوا دوه- درې کسه نارینه د پېغلې کور ته ورځي او د ناستې (د زوم پښه خلاصي) د نېټې او لګښتونو په هکله له هغوی سره خبرې کوي. که چېرته کوروالـه ناستې ته تیار وي او خپل کور ته د زوم له ښکاره ورتګ او چغلبازۍ سره موافق وي؛ نو د ناستې نېټه ټاکي. د ناستې د مېلمستیا ټول لګښت د ځوان د کورنۍ په غاړه وي او که چېرته کومه کورنۍ د ځینو ستونزو له امله (ناستې) ته چمتو نه وي، د ډېرو مېلمنو د کښیناستو ځای ونه لري، د زوم د ناستې پاستې له پاره جلا ځای او کوټه ونه لري او یا داسې وېره ولري چې خدای مه کړه خور- لور یې په کور بلاربه (امیدواره) نه شي(6)؛ نو د یوې کوچنۍ میلمستیا په ترڅ کې د ځوان کورنۍ ته یوازې د واده دوهمه نښه یا (ستن) ورکوي(7).
د ریباري یا رویبارۍ د ځپرکې په پای کې د دې خبرې یادول اړین ښکاري چې دا یوه ځوان ته د یوې پېغلې د غوښتلو دود و؛ خو ډېر کله داسې پېښېږي چې رویباران یوه سپین ږیري یا یوه تنکي زلمي ته د کومې پېغلې په مرکه ورغلې وي او یا مرکچیان پېغله د داسې یو چا له پاره غواړي چې یوه دوه ښځې نورې هم ولري او یا سړی دښمني ولري او سر ته یې خطر وي او یا دې ته ورته نورې ستونزې، په داسې حالاتو کې د مرکچیانو یا رویبارانو کار ډېر دروند وي چې د پېغلې کورنۍ دې ته قانع کړي چې خپله لور ورکړي. له بده مرغه چې د کورنیو درنې اقتصادي ستونزې کله- کله د دې لامل کېږي چې یو پلار دې خپله ښایسته پېغله لور په بن ورکړي او یا یې سپین ږیري ته واده کړي.
په وردګو کې د (دعا) او (ناستې) یا (ستنې) د دود تر مینځ کوم بل پړاو نشته. په وردګو او ټولو پښتنو کې چې کله (دعا) وشوه او د یو چا زوی- ورور ته د بل چا د لور- خور د ورکولو غږ پورته شو او د خبرتیا ډزې وشوې، بیا هېڅ راز بېلوالی نشته او دا واده به هرومرو کېږي
د افغانستان مدني قانون (64 ماده) د دوو کورنیو تر مینځ دغه پړاو چې پښتانه یې (کوژدن) او کابلیان یې (نامزادي) بولي (د ازدواج وعده) بولي. د مدني قانون د دې خبرې مانا دا ده چې دا د هلك او جنۍ د پېژندګولي وخت دی. دوی به د یو بل د پېژندلو هڅه وکړي او بیا به د خپل ګډ ژوند په اړه بنسټیز تصمیم ونیسي.
مدني قانون وروسته لیکي چې (د عقد دواړه خواوې کولای شي چې ورځخه منصرف شي)؛ خو د پښتنو په دودیزه ټولنه کې دا دوره هېڅ کوم ځانګړی ارزښت نه لري او (کوژده) (واده) ګڼل کېږي(8).
رښتیا خبره خو دا ده چې کله په وردګو کې یوې کورنۍ ته د بلې کورنۍ د پېغلې د کېدلو یا (دعا) غږ پورته شو، نور نو هېڅ راز ستونزې او شخړې د دې واده د هرومرو کېدن مخه نه شي نیولی او دا ښځه د دې کورنۍ ناموس بلل کېږي. اوس نو که د دې ځوان او پېغلې ژوند له څومره ستونزو سره مخامخ کېږي، څوك سر نه پرې خوږوي؛ خو د ناموس په نامه د هغې خوندې کېدل سل په سلو کې جدي پالل کېږي.
ناسته:
په ځینو وردګو کورنیو کې ناسته د خېښۍ لومړنی او اساسي دود دی. په دې دود کې ټول لګښت د ځوان د پلارګنۍ په غاړه وي، د ځوان پلارګنۍ تر هر څه د مخه د پېغلې کور ته د ناستې خرڅ لېږي. دا خرڅ د دواړو خواوو په خوښه او د دوی د مېلمنو د هرکلي په اندازه او یا نوکې ډېر برابر شوی وي.
په دې کې غوښه (پسه یا غوینه، اوړه، مېوه، د پېغلې له پاره جامې، ګاڼې، بوټونه، جرابې، د سینګار سامان او د هغې د ډېرو نژدې خپلوانو له پاره جامې، نکریزې او نور ضروري څیزونه شامل وي.
د وردګو په منځینو کورنیو کې د دغه خوراکي توکو اندازه اوس- اوس داسې ده: اوړه(15- 20 من)، غوښه (ژوندی څاروی) 10- 15 من او مېوه(ممیز، توت، نخود، شرینی، نقل، چاکلیټ او داسې نور شیان چې سره ګډېږي او څرنګوالی یې د کورنیو په اقتصاد او سویه پورې اړه لري).
د ناستې له ټاکلې نېټې څخه یوه روځ مخکې د ځوان د کورنۍ له خوا څلور- پنځه ښځې او نارینه د پېغلې کور ته خرڅ یا پوښ وړي. که دا خېښې په یوه کلي کې د ننه وي، د خرڅ وړل اسانه وي؛ خو که خېښې په لېرو کلیو کې وي، د خرڅ وړل ستونزمن وي. پخوا به دا خرڅ په خرو وړل کېده؛ خو اوس له موټرو څخه کار اخستل کېږي. په پوښ روانې ښځې پلې وي که سورې خپل پوښ ستایي او نارینه له حرکت څخه د مخه معمولاً د ټوپکو څو ډزې کوي. ځینې کورنۍ د خپلو ستونزو له امله د ټنګورو یا خېښانو ښځو او ساز او سوبت سره موافقه نه کوي او پوښ یوازې یوه ښځه او یو- دوه نارینه وړي(9).
که ګل دی د پلالو ګلغومچه (10) ورسره
(پلانی) په پوښ رېیي(11) خویندې جوړه ورسره.
*
د موږ د پېغلې پوښ د ملغلرو(12) دی
(....) خیالي راوړی له کابله دی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سبا ته د ځوان د کورنۍ ښځينه او نارينه کسان د ده په ګډون د پېغلې کور ته ورځي. د دغه مېلمنو په شمېره مخکې دواړو خواوو موافقه کړې وي. که د پېغلې کورنۍ ډېرې خوښې او يا ستر ميلمستون ولري او يا مراسم په توده هوا کې په ځای کېږي او نارينه بهر کيناستی شي او يا جومات د مېلمنو د هرکلي له پاره برابر شوی وي(13)؛ نو د مېلمنو شمېره ډېره وي. په دې غونډه کې ټول خوشاله ښکاري، يو په بل ټوکې ټکالي کوي او مشران د خپلې نوې خېښۍ د درنوالي، برم، ښکلا او ښه دوام په هکله خبرې کوي.
په وردګو کې ټوکې يوه معمولې خبره ده. خلك په خپلو کورونو او کليو کې يو په بل ټوکې کوي، ځنې نارينه او ښځې په ټوکو کې ډېر نامتو وي او خلك نه غواړي چې په ټوکو کې ورسره مخامخ شي. په خوښيو کې خلك له خپلو مېلمنو سره ډېرې ټوکې کوي او هڅه کوي چې مجلس تود وساتي او ډېر وخاندي.
په وردګو کې دغه ښځينه او نارينه مېلمنو ته لومړی سهارنۍ ورکول کېږي. دغه سهارنۍ په ډېرو ځايونو کې د پېغلې د کورنۍ او نورو کليوالو په ګډه مرسته برابرېږي.د دغه سهارنۍ په دسترخوان شودي، پېروی(14)، کوچ، پوخه(15) وطني کلچې، بوسراغي، غوړې ډوډۍ، ښېلی(16)، هګۍ، حلوا، شيربرنج او نور خوراکي شيان ايښي وي.
له چايو وروسته بيا د غرمې تر ډوډۍ پورې د دواړو خواوو تر مينځ خوندوري مرکې او ټوکې رواني وي. په دا ټوله روځ په ناسته راغلي مېلمانه د خپلو ټوپکو او نورو وسلو په ساتنه او څارنه مکلف دي او کور بانه دا حق لري چې کومه وسله، په يوه مناسب وخت کې د دوی له سترګو الونيه(17) يا پټه او ګوښه کړي.
خلك وايي هغه څوك چې وسله نه شي ساتلی، د وسلې د ګرځولو لياقت نه لري. که چېرته داسې وشول کوربانه حق لري چې وسله ببرته ور نه کړي او يا يې ښه پرې وځوري او بيا يې ورکړي. په داسې حال کې ناغه هم اخستل کېږي.
په وردګو کې معمولاً د غرمې ډوډۍ چې خلك يې د بريځر ډوډۍ بولي. په 9- 10 بجو خوړل کېږي.(18) له ډوډۍ څخه وروسته چې معمولاً ښوروا وي، د کلي ملا د (ايجاب او قبول) شرعي دود په ځای کوي. يو څوك د زوم په نرۍ ګوته لږ نکريزې ږدي، زوم دغه کس ته لږ پيسې ورکوي او د ځوان پلار يا بل مشر(19) د ولور يوه برخه پيسې د پېغلې پلار يا بل مشر ته سپاري. په وردګو کې کله دا خبره پټه وي او عام خلك د ولور په اندازه يا د ورکړې په شرايطو ډېر نه پوهېږي؛ خو کله دغه ټوله راکړه ورکړه د خلکو په مخکې تر سره کېږي چې سبا د کومې احتمالي ستونزې په وخت کې شاهدان وي او سپينه خبره وکړي(20).
له ډوډۍ او د ايجاب او قبول له شرعي دود څخه وروسته مېلمانه رخصت غواړي؛ خو زوم د خوښې په کور کې پاته کېږي. کوروالې ټول مېلمانه نر او ښځې نازوي او د دوی د دريځ له مخې سوغاتونه ورکوي چې په هغه کې لونګی، جامې، پټوګان، دسمالونه، ځونډي او نور شيان د يادولو وړ دي. له دې سوغاتونو سره جوخت د پېغلې کورنۍ خپلو نويو خېښانو ته (رومال)(21) او (ستن) (22) ورکوي چې د ځوان د ورور يا کوم بل نژدې خپلوان په لونګۍ کې ټومبل کېږي. خلك دغه رومال او ستنې ته (ګل) هم وايي(23). له دې وروسته يو ځلې بيا د خېښۍ د ښه پايښت، د ښځې د قدم د نيکمرغۍ او د دواړو کورنيو د ښه چلند له پاره لاسونه پورته کېږي، په ناسته راغلي کسان د پېغلې له کوره رخصت غواړي او روانېږي.
ناويلې دې نه وي پاته چې وردګ د خېښۍ په ټول بهير کې يو د بل عزت ساتي او مېلمانه له کوره (سپك) نه وباسي. له همدې امله د خېښۍ دواړه خواوې يو بل په ښو سوغاتونو نازوي او ان ماشومانو او هغه څارويو (خر، اس) او په اوس وخت کې موټرو ته چې د زوم له خوا د پېغلې کور ته ورغلي وي سوغاتونه ورکوي. د مثال په توګه د اس، اسپې او يا خره غاړې ته ګردنۍ(24) راچوي او په موټرو باندې ځونډې يا ريمالونه ځوړندوي. خلك دې سوغاتونو ته (برخې) وايي(25).
کله چې د ځوان خپلوان له (رومال) او (ستن) سره، د پېغلې له کوره څخه راوځي، ښځې بدلې بولي او د خپل کلي په لور رواني شي. دلته نارينه د خوشالۍ ډزې هم کوي:
راغی رومال راغی، رومال پټ دی په کوبو (26) کې
د (...) په سر يې ايښی، سر يې لوړ دی په تربرو کې
*
رومالې په جوپو – جوپو دې وړمه
رومالې د لوټو په زور دې وړمه
يا: رومالې د تربرو په زور دې وړمه
*
په غره کې ټکهار دی ژنيو ښکار ويشتلی دی
ټول خلك خبر دي موږ ريمال راوړی دی
*
په نريو سريو(27) اور دی لګېدلی
د (...) ته دستار نوی ګل ختلی

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

او کله چې دا خلك د ځوان کور ته ورسي، هلته ښځې په کلا کې د ننه او نارینه بهر سندرې وايي، اټنونه کوي او خپله خوشالي څرګندوي. ناويلي دې نه وي پاته چې دا خوشالۍ د ځوان په کور کې دوه درې روځې دوام کوي. ډله- ډله خپلوان او کليوال راځي او د ځوان مور او پلار ته مبارکې وايي(28).

---

[1] لك- لاك- لاکھ- هندي ويې چې د سل زره (100000) مانا ورکوي (رامايانا, ص 283). دا ولور د کتاب د ليکلو او خپراوی په کال پوره اړه لری. د خوست او پکتيا په ځينو سيمو کې (زرمله- ځدران او نور) په ولور سربېره (خلات) او (کبا) هم اخستل کېږي. خلات هغه پيسې دي چې د پېغلې ماما يې اخلي او د (کبا) پيسې د پېغلې اکا اخلي. په دې برخه کې د پېغلې پلار يا د هغې نوې خسرګنۍ د څه ويلو حق نه لري (فولکلور مجله، 1353 ، څلورمه ګڼه، ص 28). خلات چې غالباً له عربي خلعت څخه جوړه شوې مغنه کلمه ده د ماما ولور بلل کېږي. د پکتيا په ټولو قبيلو کې ماما د خورځې په ورکولو کې د خلات حق لري او که ورته ورنکړل شي، هغه کولای شي چې ښځه راوګرځوي(د پښتني قبيلو، ص 100) په وردګو کې خلات او کبا نشته.

په ځاځيو کې اوس ولور شا او خوا دوه لکه افغانۍ او په سيد کرم کې څلور لکه کلداري دی. د سيد کرم خلك د ناوې د تره پيسې (دروازه) بولي. په دې ځای کې کله چې ناوې وباسي د ناوې تره يا د تره زوی دروازه وتړي او پيسې غواړي. دا پيسې معمولاً 2-5 زره وي او بيا دروازه پرانستل کېږي. په سيد کرم کې د ناوې د ماما پيسې ته کبا((5-10زره) وايي. ځنې ماماګان په دې پيسو خپلې خورځې ته د کور سامان اخلي(آزاد خان).

په نورستان کې د پېغلې ولور جنسي (بوده ګان لکه له 200 څخه تر 400 پورې وزې يا 12- 35 غواوې او غوايه او جنګي شيان لکه توري، ټوپك او داسې نور شيان) دی او دا څرګندوي چې هلته لا هم د لومړنيو انساني ټولنو غوندې معاملې بارتر دي او د پيسو چلند ډېر لږ دی. (فولکلور مجله، 1355، 6 ګڼه، ص 36).

د سرغني ځيني نيمه کوچيان هم د نورستانيانو په شان د ولور په ځای (واج_ منقول او غير منقول شيان) اخلي (پښتانه کوچيان، ص 190). د سرغني د نيمه کوچيانو په هکله دا څېړنې 28 کاله پخوا د زمينداور د (تيل) او (ګونجين) په کليو کې شوې چې خلك يې (اليزي يا عليزی) او (الکوزي) دي.

په مروتو کې ولور نشته؛ خو د ځوان کورنۍ به جينۍ ته د سپينو زرو ګاڼه اخلي: سرتاويزونه، باهوګان، کنګړ، وښي(ويشي د لاسونو له پاره)، ګيدړۍ (د لاسونو له پاره)، زمري رنګ(د لاسونو له پاره)، ډيدۍ(د غوږونو له پاره)، والۍ (د غوږونو له پاره)، لمنو ډيدۍ، کړۍ (د پښو له پاره)، پنجيپۍ(د پښو له پاره)؛ نوري، اوژده چرچنې(د کمیس له پاره)، پشګوتې، ټيك او اوږۍ او په سپينو زرو ښايسته شوې دوې لوپټې(د مروتو د واده دستور، ص 21).

په کندهار کې ولور تر (هوکې) د مخه ټاکل کېږي او دوه ډوله دی:

الف: دا چې ولور د مخه وټاکل شي او د زوم کورنۍ يې د پېغلې کور ته استوي. ولور معمولاً يو څه د پېغلې او نور يې د پلارګنۍ له خوا مصرفېږي.

ب: ولور نه ټاکل کېږي؛ خو د ځوان کورنۍ د درناوي د پر ځای کولو له پاره يو څو زره روپۍ د ولور په نامه د پېغلې کور ته لېږي. دا نو بيا په دوی پورې اړه لري چې ټولې اخلي، نيمايي اخلي او که هېڅ نه اخلي. E

په دې دعا کې نارينه شريني (دسمال) اخلي. په داسې حالت کې د هلك او جلۍ لومړنۍ نکاح د ملا له خوا تړل کېږي او بيا د شريني غوټه او د پېغلې (دسمال) له ځانه سره اخلي او ځي. دا دسمال معمولاً د زوم د ورور يا کوم بل نژدې خپلوان په اوږو ځوړند وي، بهر د خوشالۍ ډزې کوي او خپل کلي ته روانېږي. په کور کې د ځوان کورنۍ په (دعا) تللو کسانو ته سوغاتونه ورکوي (د کندهار فولکلور، ص 6).

په اوسني هلمند کې ولور ډېر لوړ دی. وېل کېږي چې په هلمند کې د مخدره مواد کر، پروسس، سوداګري او ترانزيت يو شمېر خلك ډېر شتمن کړي او ولورونه يې تر15 - 21 لکو کلدارو پورې جګ کړي دي. که څوك دويم او درېيم واده کوي، نو خپل نوی خسر ته له دې ډېرې پيسې او نور لګښتونه هم ورکولای شي(پژواك- د لیندۍ دويم- 1386) د اپريدو په ځينو قبيلو کې 4- 5 لکه کلداري ولور شته؛ خو ځينو نورو لکه د پيخې د سيمې علی شېرخېلو ولسي پرېکړه کړې چې ولور به شپيته زره کلداري وي. د عادل خېلو، سورخېلو، غمي بابا او دربابا خلك هم همدا پرېکړه پالي او په خپلو لورانو دروند ولور نه اخلي. (حاجي تاج محمد شينواری). په شينوارو کې ولور د ودوزن په وخت کې ټاکل کېږي. E

د صوابۍ، چارسدې، مردان، نوښار او سوات (شنګله) يوسفزي او ختك په خپلو لورانو هېڅ ولور نه اخلي. دا خلك په خپلو نويو خپلوانو (د ځوان کورنۍ) باندې د (خپه ارتي، پښه ارتي) او واده په مراسمو کې نور لګښتونه لکه پسونه (غوښه)، اوړه، مېوه، کېږي او نور شيان هم نه ږدي. په دې خلکو کې د واده د دودونو په وخت کې هره کورنۍ خپل لګښت په خپله کوي او يو په بل بوج نه اچوي. (فيصل فاران- ژورناليست).

د کرمې ايجنسۍ په شعيه ګانو کې چې شمېر يې د ښاغلي نعيم توري په وينا پنځه لکه ته رسېږي ولور ډېر لږ دی؛ خو د ځوان کورنۍ به پېغلې ته پنځه جوړې جامې او چېرې، پنځه تولې سره زر او شرعي مهر (زر- دوه زره پاکستانۍ کلداري) ورکوي. د ښاغلي توري په قول د کرمې غريبې شيعه کورنۍ په خپله خور- لور 50-60 زره کلداري ولور اخلي؛ خو همدا پيسې ببرته د خپلې پېغلې له پاره د سوغاتونو په اخستلو لګوي. د کرمې په پښتنو کې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خلك په خپلوانو او پردیو دواړو کې ودونه کوي. د کرمې ښاري خلك له سني پېغلو سره ودونه کوي او سنیانو ته هم لوڼې ورکوي (نعیم توری).
[2] ځوندی یا پوپك، دا تزییني څیز له مریو، وریښمنو او یا رنګه سنیو (سنی - وودل شوي وړین ډبل تار) څخه جوړېږي چې د ټولو د کاروني ځایونه سره بېل دي: د مریو او وریښمو ځوندي د ماشومانو، ټوپك، تسبیح او داسې نورو شیانو د ښکلا او د سنیو ځوندي د آس، اوښ یا موټر د ښایست له پاره په کارېږي.
[3] په کندهار کې د پېغلې لومړۍ مرکه ښځې کوي. دا ښځې (د ځوان مور، ترور او ...) څو ځلې ځي او راځي چې د پېغلې د مشرانو ښځو موافقه تر لاسه کړي. البته دې ښځو هرومرو له خپلو نارینه ؤ سره مشوره کړې وي. که چېرته د پېغلې کورنۍ دې ته چمتو وه چې راغلو ښځو ته (هو) ووایي؛ نو دوی ته شیریني ورکوي؛ خو کله نا کله کوروالې ښځې له مېلمنو ښځو څخه غواړي چې د (هوکړې) له پاره نارینه ورولېږي. نارینه د واده په ولور او نورو لګښتونو خبرې کوي او بیا د (دعا) لاس پورته کوي.(هوکړې) یا (هوکې) د (هو) او (کړې یا کې) څخه جوړه مرکبه کلمه ده چې د هو او منلو مانا ورکوي.
په پکتیا کې هم کېدای شي چې د پېغلې کورنۍ ژر موافقه وکړي او له خپلو خېښانو سره د خیر لاس پورته کړي او یا له څو ځلې تګ راتګ او جرګو څخه وروسته (دعا) ته چمتو شي. که داسې وشي؛ نو د خیر لاس پورته کېږي او د معمول دود سره سم خوانی (شریني) پرې اچول کېږي. د پېغلې پلار مېلمو ته سوغاتونه (دسمالونه، لونګی...) ورکوي او د ځوان د اړخ خلك د ټوپکو ډزې کوي. پکتیاوال په همدې غونډه کې د پېغلې په ولور او نورو لګښتونو (خوړه، پسول، جامې؛ خوراکي توکي، سوغاتونه، نکریزې او نور) باندې هم موافقې ته رسېږي او له دعا څخه وروسته یو بل ته مبارکي ورکوي(ولسي پوهه, ص 18- 20). E
د کنړ په پېچدره کې کله چې دواړه خواوې په خېښۍ راضي شي، نو د پریکون یا (ګوړه ماتې) وخت ټاکي. د دواړو خواوو کسان په خپلو کې کیني، ولور او نور لګښتونه ټاکي، جنۍ وکیل نیسي او ملا د هلك او جنۍ نکاح تړي، د خلکو د خبرتیا له پاره یو څو ډزې وشي او د ځوان له خوا راغلي کسان یو بل ته مبآرکي ورکوي(د پېچدرې... ص 83).
په افغاني هندوانو او سکانو کې ولور او نور لګښتونه شته چې د پېغلې د کوروالې ؤ په غاړه وي. په دې خلکو کې د کوژدې په موده کې د خپل خسر کور ته نه شي تللی. (افغان هندوان او سکان، ص 138). د هندوانو او سکانو د واده د دود شرحه د دې کتاب په ضمیمه کې لوستلی شي.
د شینوارو په (دعا) کې دسمال یا کومه بله نښه نشته. د شینوارو کوژدن په پسونو کېږي. په دې خلکو کله چې د پېغلې او ځوان د کورنیو تر مینځ موافقه نژدې شوه، یوه روځ سره وټاکي، د ځوان کورنۍ د خپل وس مطابق پسونه د پېغلې کور ته لېږي، څو سپین ږیري او مشران او یو څو ښځې د پېغلې کور ته ورشي، پسونه حلال شي (د دې پسونو شمېره د دواړو خواوو په موافقه او د ځوان د کورنۍ په اقتصادي وضعه پورې اړه لري (معمولاً له دوو څخه نیولې بیا تر لسو پورې)، وریتې وشي، کړایي ګاني بار شي، دعا وشي او بیا مېلمانه په خوشالي د خپل کور خوا لاړ شي او د خلکو د خبرتیا له پاره ډزې وکړي (حاجي تاج محمد شینواری).
د کرمې ایجنیې شعیه ګان د کوژدن لومړی دعا ته (ګوړه ماتی) یا (خواړه څکل) وایي. دا خلك په ودونو کې ډېر لګښتونه نه کوي او هڅه کوي چې خپل دودونه د شرعي حدودو په چوکاټ کې وپالي (نعیم توری).
په لغمان کې د پېغلې کورنۍ نارینه ریبارانو ته چې دوی یې کله نا کله مرکه هم بولي، په یوه وریښمین دسمال کې نقل او پټاسې ورکوي.
د لغمان ځنې خلك دې دسمال ته (نښه) او ځنې (وړوکی دسمال) وایي. ښاغلی عبدالجبار نادر لیکي چې د ځوان پلار په همدې غونډه کې د ولور ټولې پیسې په داسې وخت کې د پېغلې پلار ته ورکوي چې نور خلك وتلي وي. نادر صیب وایي چې د لغمان خلك د نوې دوستۍ په وخت کې د پېغلې او ځوان سواد ته هم ارزښت ورکوي او ډېرې کورنۍ غواړي چې خپله خور- لور په لوستې او عصري ځوان واده کړي (په لغمان کې د واده دودونه، ص 22).
پکتیاوال په لومړۍ روځ یوازې لاس پورته کوي او پېغله د ځوان په نامه کوي. د کونړونو خلك (هوکې) ته (دعای خیر) وایي. وردګ دې دود ته د واده (دعا) وایي. په ننګرهار کې د (هوکې) کلمه (وکې) ده چې لومړي او دوهم توري یې مفتوح او درېیم توری یې ساکن دی.
په کوچیانو کې ولور د (هو) په وخت کې نه ټاکل کېږي او کوم ټاکلی حد نه لري. په کوچیانو کې ډېرې خپلوۍ په نژدې کورنیو کې کېږي. په داسې حالاتو کې کله چې د پېغلې پلارګنۍ د رویبارانو مرکه ومنله، سمدلاسه پسه حلالوي، راغلو خلکو ته ډوډۍ ورکوي، ایجاب او قبول کېږي، د ځوان پلار یو څه پیسې په دسترخوان کې ږدي او د (هوکې) دستمال په خپله شمله پورې ځړوي، کوچې ریباران خپلو کېږدیو ته د تګ په وخت کې د خلکو د خبرتیا له پاره د ټوپکو ډزې او خوشالي کوي. (پښتانه کوچیان، لومړی ټوك، ص 134).
په همدې بېرته تګ کې کوچیانې ښځې د ښادۍ بدلې بولي او خپل احساسات بیانوي. د دې سندرو ځنې بلګې دا دي:
په کور شین زرغون بالښت ده
په بالښت د موږه څه دي موږ ښادي له خدایه غوښته E
*

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په کور شين زرغون باښت ده
دا بالښت ځنې راواخلئ د (...) د کور لايك ده
*

د کريږي لرگي وچ لکه د بېرې
د موږ کلی کمکی ښادۍ يې ډېرې
*

د دوو ډولو غربي سو شينکی رود وبهېده
د (...) د ښادي غږ سو (...) سپور ودرېده
يا د (....) د ښادي غږ سو (....) بيا وبرېښېده
*

څه نري شمال پېڅولونه ښوروي ښادي مې د (...) ده عالمونه خبروي
يا: څه نری شمال پېڅولونه ښوروي ښادي مې د (...) ده ولسونه ټولوي
يا: څه نری شمال پېڅولونه ښوروي ښادي مې د (...) ده وطنونه ښوروي
*

دا پورې غر مې د کجيرانو ده
دا نن ښادي مې د ښو ځوانانو ده
*

دا پورې غر کږو وږو نيولی
ښادي مې د (....) وطن يې ټول نيولي
*

څه نري ژړا په شنو کمرو کې
نن د ښادۍ غږ د موږ په کليو کې
*

ساندې سپېلنيه سپرو راوستی نيليه
د (...) کلي خبر کئ په موږ غږ ده د ښاديه

(کوچيانی پانگه، ص 70- 72)

د غزني او کلات تر مينځ پښتانه کوچيان هم د رويباري له پاره په زړه پورې دودونه لري. ښاغلی غلام محمد ليکي چې کله چې د ځوان د کور مرکه د پېغلې کېږدۍ ته ورشي، د پېغلې مور او پلار چې له پخوا نه هم يو څه په موضوع پوه وي، په خپلو کې مشوره وکړي. که چېرته د دوی لور په ځان باندې پېغله وي او د اوښانو د بارولو، د اوښانو د گونډه کولو، د کېږديو د ودرولو او نړولو او د ډوډۍ د پخولو او د کور د نورو کارونو وس او پوهه ولري او له دې خلکو سره په خبښی خوشاله وي نو مېلمنو ته خوږ چای ورکوي؛ خو که خوښه يې نه وي تريخ چای ورکوي هغه هم په تروه تندي!
که کومه کوچۍ مور او پلار د مېلمنو په ورتگ او نيمه- نيمه خبره ښه پوه نه شي، نو مرکچيان خبره په ډاگه وريادوي. اوس کـه د کورواله وو خوښه وه په خندا_ خندا E دوی امېد واره ساتي؛ خو که يې خوښه نه وي نو بيا راز – راز پلمی کوي او خبره بل وخت ته پرېږدي.
کله چې (هوکې) وشوه، نو په ولور او نورو لگښتونو خبرې کېږي. د دغه سيمې کوچيان په نغدو پيسو د واده (دود او بايده) کوي؛ خو په ولور کې (ژوندي) يا څاروي ورکوي. په کوچيانو کې ولور ضرور دی او خلك بې ولوره پېغلې ته په کمه سترگه گوري او عيبجنه يې بولي. په دې کوچيانو کې معمولې ولور شا او خوا سل ژوندي (90 مېږې، يوه برخه زړې، يوه برخه ځواني او يوه برخه پشېرلی يا تنکی او 10 مژان يا پسونه) او شل زره روپۍ. نقدې پيسې د پېغلې مور اخلي چې خپلې لور ته ټك او پوك (کور) پرې برابر کړي.
په دې وخت کې مېر حلال شي او کورواله د مېنې کور يو- يو نارينه او ښځې راوغواړي، ډوډۍ ورکړي، د پېغلې د (هوکې دسمال) او مېوه راواخلي او د مېلمنو ښځو نندارې ته يې کېږدي. ښځې هر څوك خدای وس په دسماله باندې پيسې ږدي او خپله خوښې څرگند وي. د پېغلې مور يو څه ځان ته واخلي او لږ په دسماله پورې غوټه کړي او بيا يې د نارينه ؤ مجلس ته وروړي. حاضرين د ځوان پلار او نورو مشرانو ته د (هوکې) او (دسمال) مبارکې ورکړي، دوی هم مننه ښکاره کړي او ورته نيکمرغي له خدايه وغواړي، له کېږدۍ بهر يو دوه ټکه وکړي او خدای پامانی واخلي. د پېغلې مور په دوی پسې اوبه وشندي او بېرته خپلې کېږدۍ ته ستنه شي.
د ځوان پلار يا تره يا ... خپلو کېږديو ته د رسېدو په وخت کې بيا ډزې کوي او په دې توگه خلك په خپله ښادۍ او خبښی خبروي. دا وخت د ځوان مور خپله کېږدي د مېلمنو د هر کلي له پاره چمتو کړي او بيا د راغلو کسانو مخې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ته اوبه وشني، ټول يو بل ته مبارکي ووايي، د ځوان مور د شا او خوا کېږديو په ښځو ږغ وکړي چې که د نيمې روځې خوب کوئ پاڅئ او که ويښې ياست اټن ته راووځي.
د غلام محمد د وينا له مخې کوچياني ښځې دوه اټنه لري چې يوه ته (سوړ) او بل ته (تود) اټن ويل کېږي. د ښځو د ساړه اټن د نارو دوه بېلګې:

زموږ په کېږديو ګل دی غوړېدلی
ما ويل اور- اور دی صاحب جانه غازي جنګ پر لاهور دی
د دښن په کېږديو وير دی غوړېدلی
ما ويل اور- اور دی صاحب جانه غازي جنګ پر لاهور دی
*
کاغۍ مشوکه ښکته کړه لونګ اخله
ما ويل اور- اور دی صاحب جانه غازي جنګ پر لاهور دی
د جان هوکې مو راوړه له زړه زنګ اخلي
ما ويل اور- اور دی صاحب جانه غازي جنګ پر لاهور دی
د تاوده اټن د نارو بېلګې:
مخ دې په سپين کې سرخي وايي اې
ړنګه بنګه دا نجلۍ ولاړه د يار له څنګه
لکه خاصه چې پر ګلاب وغوړوينه
ړنګه بنګه دا نجلۍ ولاړه د يار له څنګه
*
E
د يارۍ حال ما ته مالوم دی اې
ړنګه بنګه دا نجلۍ ولاړه د يار له څنګه
لکه ميرزا ته چې مالوم دي دوترونه (دفترونه) اې
ړنګه بنګه دا نجلۍ ولاړه د يار له څنګه
له دې وروسته د ډېر تاوده اټن وار راځي. په دې کې ښځې خورا توندې شي او ګړندی اټن وهي. بدل:
ګودر ته ولاړه سه خالدارې اې
اې لاس پر تورپيکي راوړه خالونه انګريزي راوړه
په لاس کې راوړه د مينو سوي زړونه اې
اې لاس پر تورپيکي راوړه خالونه انګريزي راوړه
په دې وخت کې د کلي ځوانان هم په شوق شي، د ځوان په پلار مړ حلال کړي او دوی د ډم او ډول بند او بست وکړي. د دې سيمې ځوانان تر هغه وخته پورې چې ډول رارسېږي، خپلې څڼې ووينځي، وېښتان غوړ کړي او د اټن جامې واغوندي. کله چې ډول او اټن برابر شي د ځوان د (هوکې دسمال) راوباسي او په کېږدۍ يې وځړوي، اټنچيان د (مبارك- مبارك) نارې ووهي او اټن پيل کړي. (د ښتنو دودونه, ص 212 – 216).
د افغانستان په هندوانو او سکانو کې د پېغلې غوښتل او کوژده کټ مټ د پښتنو په شان ده. د کور کلي مشران، سپين ږيري او مخور د پېغلې کور ته په مرکه ورځي او د خېښې تمه څرګندوي. که چېرته د پېغلې پلار موافق وي، نو د کوژدې د خوږې (شيريني) دسمال ورکوي او د ځوان کورنۍ خپل خپلوان خبروي. په افغاني هندوانو او سکانو کې (ولور) نشته او ډېر لګښت د پېغلې د کورنۍ په غاړه وي او ځنې خو د زوم په کور کې د ډوډۍ خوراك ګناه بولي(افغاني هندوان او سکان ، ص 137)

[4] د کورونو يا کلاوو مجموعې ته کلي وايي. په کلي کې د قبيلې د (خېل) کورنۍ اوسي. کله- کله بېل- بېل خېلونه په يوه کلي کې اوسي؛ خو دا خېلونه به په لوړو کړيو کې سره خپلوان وي.
په ځائيو او منګلو کې د کلي اصطلاح د قبيلوي هويت پر ځای هم کارول کېږي. مثلاً له يو چا څخه د قوم د پوښتنې ترمخه د کلي پوښتنه کېږي، څرنګه چې کلی په ثابت ډول د يوې قبيلې د کورونو څخه جوړ شوی وي، نو کله چې خېل کلي وروپېژني، پوښتنه کوونکی پوهېږي چې دا سړی د کوم کام (قام- قوم) يا قبيلې دی. په کلي کې جومات د جرګې او مرکې ځای وي؛ خو د جنوبي او ختيځو خواوو په قبيلو کې د جرګې له پاره په کلي کې (دکانچه) او نور ځانګړي ځايونه جوړ شوي وي. په لويديو خواوو کې دا کار اکثراً په جومات کې کېږي (د پښتني قبيلو, ص 217).
په کونړونو کې تر دعا وروسته په رويبارانو باندې ګوړه يا بوره وېشل کېږي. سربيره پر دې هلته ځنې کورنۍ رويبارانو ته يو وريښمين دسمال هم ورکوي چې په يوه څنډه پورې يې (سره زر) او په بله څنډه کې يې (خاوره)

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

غوټه شوي وي. خلك وايي چې وريښمين دسمال د ښه خوی او خاصيت، سره زر د ستې، ذات او اصيلتوب او خاوره د زغم نښې بلل کيږي .
په منګلو کې کله چې د کور مشران پرېکړه وکړي چې خپل ځوان ته واده وکړي، تر هر څه د مخه جنۍ ټاکي او له هغوی سره ګوري. دوی په دې ليده کاته کې په مقدماتي خبرو موافقه کوي او بيا يو څو کسه نارينه د (هوکې) له پاره د جنۍ کور ته ورځي. دوی هلته په جنۍ باندې (لاس نيوی يا خوانی) اچوي. له دعا وروسته د ځوان له خوا راغلې خلك د نورو د خبرتيا له پاره ډزې کوي او کوروالـه مېلمنو ته د (هوکې) ريمال يا ستن او دوی ته سوغاتونه ورکوي(د پښتنو ځنې فولکلوري, ص 40).
د خوست او تنيو کورنۍ کله چې يوه جلکۍ د خپل ژنې له پاره خوښه کړي، نو د هغې له کورنۍ او نژدې خپلوانو سره تګ- راتګ پيل کوي. که د دواړو خواوو موافقه وشوه د پور، ګاڼې، قبا، کاليو، وريجو، غوړيو، پسونو او نورو اړونده شيانو په برخه کې هم خبرې کوي. کله چې په دې شيانو هم (هوکې) وشوه، په ټاکلې روځ د ژنې د کورنۍ څه ښځې او نارينه د جلکۍ کور ته ورځي او نکاح تړي. خلك دغه دود ته (لاس نيوی) وايي. د نکاح په دغه مراسمو کې جلکۍ او ژنې حضور نه لري او پلارونه يې وکالت کوي. په دغه غونډه کې ټول هغه شيان د حاضرينو په مخکې يادېږي چې دواړو خواوو موافقه پرې کړې وي او دا ځکه چې دوی به په راتلونکې کې پرې شاهدان وي.
له نکاح څخه وروسته پر حاضرينو داسې لږ- لږ پيسې وېشل کيږي چې د ژنې او جلکۍ دواړه کورنۍ يې په ګډه پرې کوي. د سيمې خلك دې پيسو ته (خلات) وايي. بيا د E ژنې خپلوان له کوره بهر ډزې کوي، سوغاتونه اخلي او خپل کور- کلي ته خوځېږي (د تنيو کلتور او فولکلور, ص 28).
په شينوارو کې د ځوان او پېغلې د کورنيو تر مينځ لومړۍ پټه موافقه کيږي، وروسته بيا د ځوان پلارګنۍ په يوه مناسب وخت کې خپل ځنې خپلوان ډوډۍ ته رابولي او له دغه نوې کورنۍ سره د خپلې خېښۍ په هکله خبرې کوي، په دغه مېلمستيا کې چې معمولاً د شپې وي، د پېغلې پلار هم رابلل شوي وي. کله چې خپلوان په کيسه خبر او ټول راضي شي، په يوه غوټه کې خوږه يا بوره راوړي چې په ټولو باندې لږ- لږ وېشل کيږي او خولې خوږوي. په دې غونډه کې يوه مقدماتي نکاح هم تړل کيږي (فولکلور مجله، 1353 ، 2،3 ګڼه، ص 38).
د کلات او شاجوی په سيمو کې د (هوکې) په روځ ريمال (رومال) ورکول کيږي. په دې ريمال کې مېوه وي او په څلورو څنډو کې يې لونګ، پچې، مالګه او خوږه غوټه وي. د ځوان کورنۍ دغه تش ريمال يوه روځ د خپلې کلا په وره ځوړندوي او يوه شپه او روځ ښادي کوي.
د غلام محمد تره کې د ليکنې له مخې د کلات او غزني تر مينځ پښتنو کې د (دعا) په روځ د پېغلې پلارګنۍ ډوډۍ کوي، کليوال او خورلنې راغواړي او رويبارانو ته ميوه، لونګې او کالي (جامې، شېږ جوړې مشرانو، شېږ جوړې ښځو او شېږ جوړې ماشومانو ته) ورکوي. په دغه روځ د ځوان پلار د ولور يوه برخه ورکوي او د زوم کوروالـه او خپلوان د خوښيو او خوشاليو په څپو کې خپل کلي ته ستنېږي. هلته هلکان د خوشالي چېغې وهي او د زوم په کوروالـه وو د ريمال د راوړلو زيری کوي، د کور ښځې راوزي، د (هوکې) د راوړونکو مخې ته اوبه شيندي او يو په بل باندې د دې نوې خېښۍ زيری کوي او مبارکې غواړي. په دې وخت کې په داسې حال کې چې ښځې ځانونه بدلو او اتنونو ته برابروي، د زوم پلار په خپل کلي کې په ځانګړې توګه هغه کورونو ته ورځي چې دوی ورسره خپه وي، په هغوی باندې د خپلې نوې خېښۍ زيری کوي، له هغوی نه ښښنه غواړي او له ځانه سره يې خپل کور ته راولي او دلته هغه جامې، لونګې او سوغاتونه په دوی او نورو مشرانو ويشي چې د پېغلې کورنۍ ورکړي وي. د غلام محمد تره کې په وينا دا خلك د (هوکړې) له پاره ځانګړې بدلې لري چې په اتن کې ويل کيږي:

نن چې د ګلو باران سوی دی — زانې – زانې له اوبو راغلې زانې
که زانې راغلې شنې کوترې له باغو راغلې — زانې – زانې له اوبو راغلې زانې
ما په اوربل کې انار ګل ټومبلی دېنه — زانې – زانې له اوبو راغلې زانې
*

نن مې خپه زړګی خوښې کړې — زانې – زانې له اوبو راغلې زانې
که زانې راغلې شنې کوترې له باغو راغلې زانې – زانې له اوبو راغلې زانې
چې د هوکې اتن مې ورك کړی ټول غمونه — زانې – زانې له اوبو راغلې زانې

د دې سيمو غلجی پښتنې د دستمال يا ريمال ځانګړې بدلې هم لري:
لوی دسمال ده لوی يې سور دی
د (...) په سر يې راوړ د (...) پر اوږو خپور دی
* E
سکانې پښې تر نوکو سرې دي
زما د جان دسمال يې راوړ، پر دښمن يې سرې لمبې دي
*

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خور ښادي ده غم يې مه کړې
ښادي د (... جان) ده، خدای په توره خوا يې مه کړې
*
ګل د پسرلی پاڼې يې تويې شوې
ښادي د (...) خويندې يې ټولې شوې (د پښتنو دودونه، 1353 ، ص 8-12).
[6] د لغمان خلك هم د پلار په کور د پېغلې بلاربېدل ډېر بد بولي او کېدای شي چې د دوو کورنيو تر مينځ د خپلوی، صميميت، ښه نيت او نوې دوستی فضا خړه پړه کړي. د لغمان ځنې خلك چغلبازي نه مني او دا دود ډېر بد ګڼي(په لغمان کې د واده دودونه, ص 21)
[7] په کوچيانو کې له (هو) څخه څو روځې وروسته د زوم کورنۍ د خپل کلي څو سپين ږيري راټول کړي او له دوه- درې جوړه جامو او لږ ګاڼو سره د خپل خېش (خويش) کور ته روان شي. خېش په دې خبره پوه وي، تياري يې نيولی او پسه يې حلال کړي وي. کوربانه مېلمنو ته بېګا او سبا ډوډۍ ورکوي.
سبايې د ځوان پلار په دسترخوان کې د (ولور) يوه اندازه پيسې ږدي؛ خو ټول (ولور) تر دغه وخته نه وي ټاکل شوی. نور مېلمانه هم په دسترخوان کې لږ- لږ پيسې ږدي. په عوض کې د پېغلې پلارګڼی هر چا ته د هغه د پيسو دوه چنده پيسې او لونګي د سوغات په توګه ورکوي او مېلمانه رخصتيږي (پښتانه کوچيان، ص 137)
[8] بد دردونکې مسکن، د ښځو او کوچنيانو د حقوقو څېړنيز ښنسټ، 1382هـ ش، کابل.
[9] - د کلات او مقر په ځينو سيمو کې خلك پوښ په اوښ باندې وړي.
[10] ګل غومچه- ګل غونچه
[11] رېيي- رهي- روان.
[12] ملغلرې- مرغلرې - صدف.
[13] پخوا په وردګو کې د مېلمنو له پاره د جلا خونو درلودل چندانې عموميت نه درلود. يوازې خانانو، ملکانو او شتمنو خلکو به مېلمستونونه درلودل چې ختيځ پښتانه يې اوجره بولي؛ خو په افغانستان کې د جهاد په کلونو کې ټول وردګ اړ شول چې د مېلمنو له پاره جلا او حتی له کلاوو څخه د باندې لويې يا منځنۍ خونې جوړې کړي او دا ځکه چې په دغه کلونو کې د وردګو په سيمه باندې د افغانستان د شمالي سيمو مهاجرين او مجاهدين تلل او راتلل. هغه وخت د يوې عمومي پرېکړې له مخې چا دا حق نه درلود چې په کليو کې رستورانونه جوړ کړي او له مسافرو څخه پيسې واخلي؛ بلکې مسافر به چې اکثراً د افغانستان د شمالي سيمو تاجك، ازبك، ترکمن او پښتانه او يا د هېواد د منځنيو سيمو هزاره ګان وو، د کليو په کورونو وېشل کېدل، هغوی به ډوډۍ ورکوله او دا خلك به يې د خپلو عزيزانو په شان په خپلو کورونو او جوماتونو کې ساتل. د هغوی څاروي به يې مړول، د هغوی امنيت به يې ساته او هغوی ته به يې د تګ راتګ لارې ښودلې.
له دې کلونو څخه مخکې چې عامو وردګو مېلمستونونه، نه درلودل؛ نو له جومات څخه د کلي د ګډ مېلمستون په توګه کار اخستل کېده. ژمی مهال به جوماتونه ښه تاوده او فرش وو او خلکو به خپل بېګانه مېلمانه هملته پالل. ځينو کسانو به مېلمانه د ډوډۍ له پاره خپلو کورونو ته بېول؛ خو د لمانځه، اوداسه او خوب له پاره به يې بېرته جوماتونو ته استول. ناويلې دې نه وي پاته چې ځينې هغه کليوال به هم په جومات کې ويده کېدل چې کور به يې تنګ و او د خوب له پاره به يې پوره ځای نه درلود او يا به يې خونې يخې وې.
په وردګو کې جوماتونه د ټولو خلکو په ګډ زيار جوړېږي او ټول مکلف دي چې د جومات د فرش او نورو اړتياوو په پوره کولو برخه واخلي. په جومات پسې په نوبت اور وکړي، ملا ته ډوډۍ ورکړي او داسې نور... اوس د وردګو ټول جوماتونه په غاليو، ټغرو يا ايراني موکتونو فرش دي؛ خو پخوا به ځنې فرش وو او په ځينو کې به د شولو پلالې اوارې وې. (پلاله) د غنمو ډنډر ته ويل کېږي. پخوا په وردګو کې خوارو خلکو د خپلو کوټو يا جوماتونو د فرش له پاره له پلالو څخه کار اخست. دوی به کودې- کودې (قوده- قوده) پلالې په غولې غوړولې او بيا به پرې کېناستل. دغه راز کوټو او جوماتونو توشکې او بالښتونه هم نه غوښتل. اوس چې يو څه د خلکو اقتصادي وضع ښه شوې ده او د خلکو د ژوند ستندرد لوړ شوی، نو د پلالو فرش بيخې له مينځه تللی او ورو- ورو د خلکو هېرېږي.
دلته به بې ځايه نه وي که د مېلمنو د خونې يا اوجرې په هکله لږ تم شو. اوجره د مېلمنو و د کېناستې او ملاستې ځای دی. مېلمانه په اوجره کې ډوډۍ خوري او که جومات لږ ليرې وي، لمنځونه هم هملته کوي.
اوجره له هره ډول تيرې څخه خوندي ده، که کوم تورن يا مجرم د چا اوجرې يا دروازې ته پناه وېسي، مدعيان يې هلته کاږه هم ورته کتلی نه شي. وېل کېږي چې پخوا د يو چا د زوی قاتل په ناپوهي سره د همدوی اوجرې ته پناه وړې وه او هلته خوندي ساتل شوی و! په اجره کې د مشر او کشر ځای معلوم وي. مشران پاس او کشران ښکته کيني. د اوجرې خاوند معمولاً ښکته ناست وي او خپل مېلمانه پاس کېنوي (د پښتني قبيلو, ص 9).
[14] پېروی- رش- قيماق.
[15] پوخه- پينر.
[16] ښېلی- په ژړو غوړيو کې د ډوډۍ ماليده.
[17] الونيه- پناه - پټ

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

[18] په وردګو کې د هوا د سړوالي او اوبو او هوا د ځانګړتیاوو له امله په روځ کې څلور ځلې ډوډۍ خوړل کېږي. د سهار چای، د بریځر ډوډۍ یا اساسي کتغ، ماسپښین (ساده لکه چای او ډوډۍ، شړومبې او ډوډۍ، مستې او ډوډۍ او داسې نور) او ماښام یا د شپې ډوډۍ.
[19] مشر یو دروند قبیلوي لقب دی. په پښتنو کې مشران دوه ډوله دي: لومړی هغه نارینه سپین ږیري چې د خپل عمر په داسې پوړیو کې وي چې د تجربې، پوهې، مېلمه پالنې، جرګې مرکې او راشه درشې له مخې مشر وبلل شي. هسې خو هر کور ته خپل پاخه او زاړه نارینه مشران دي او خبره یې مني؛ خو مشر هغه څوك دی چې خبره یې په ډېرو کلیوالو او حتی د نورو کلیو او یا یوې سترې سیمې په خلکو منلې وي او د درناوي وړ وبلل شي. مشر به هرومره دسترخوان او مېلمانه لري، د خلکو د ستونزو د حل له پاره به زیار باسي، له دولتي چارواکو سره به اړیکې ساتي او د نورو په وړاندې به د خپلو پلویانو ګټې خوندي کوي.
په پښتنو کلیوالو سیمو کې داسې مشران هم شته چې په عمر ډېر پاخه او سپین ږیري نه وي؛ خو یا د خپل کور- کلي مشري کوي او یا دومره کفایت، وس، وجاهت او اړیکې پیدا کوي چې ډېر خلك یې د خپل مشر په توګه مني. اروابښاد استاد عطایي لیکي: (مشر بالعموم د سپین ږیري په مفهوم راځي. کېدای شي چې د مشرۍ په مقام کې په عمر ځوان سړی وټاکل شي او کله چې دغه لقب ورکول شي ؛ نو هغه د مرکې او جرګې د راغوښتلو واك هم پیدا کوي.
په عام ډول هر سپین ږیری مشر دی؛ خو دا مشري د عمر او سن په لحاظ ورکول کېږي ولې د قبیلې د مشري لقب د مشر د نفوذ د تضمین له پاره ده. کله چې یو په عمر ځوان د قبیلې مشر وټاکل شو، نو هغه د مشري د هغه ټولو اخلاقي امتیازاتو خاوند کېږي چې په عمر پاخه سپین ږیري ته په برخه وي) (د پښتني قبیلو، ص 260-261).
[20] د لغمان خلك ناستې ته (خوړه یا لوی دسمال) وایي. د خوړې خرڅ لکه وریجې، اوړه، غوړي، غوښه، کچالو، پیاز، لوبیا، دال نخود، الوبخارا، رومي بانجان، د دیګ مساله، چای، بوره، شریني، د پېغلې جامې، نکریزې او نور شیان د ځوان د کورنۍ له خوا د نویو خېښانو کور ته استول کېږي. د خوړې په روځ د ځوان د کورنۍ مېلمانه له غرمې څخه وروسته د دوی په کور کې راټولېږي.
کله چې مېلمانه له کور څخه بهر په یوه مناسب ځای کې غونډ شول، بیا ځوان چې لغمانیان یې (شاه) بولي، په داسې حال چې ډېر خپلوان یې شا او خوا روان وي، د خلکو مینځ ته راشي او په هغه تخت باندې کیني چې مخکې ورته جوړ شوی وي. لږ وروسته شاه ودرېږي، د کلي ملا یا کوم بل مشر راشي، له پتنوس نه خولۍ راواخلي او د ده په سر یې کېږدي او د لونګې (لنګوټې) لومړی ول تر خولۍ تاو کړي، بیا نور مشران راځي او یو- یو ول ورتړي، تر څو چې لونګې پوره وتړل شي. له دې وروسته یو مشر راشي، له پتنوس څخه یو موټې نقل یا شیریني په شاه وپاشي او د خلکو د مبارك- مبارك ناري جګې شي، بیا د کلي ډم په خلکو وګرځي او په هغو باندې د نقلو یا شیرینو دسمالونه وویشي او ټول خلك د پېغلې د کور په لور روان شي(په لغمان کې د واده دودونه، ص 10- 12).
په لغمان کې کله چې د زوم د کورنۍ قضا ماسپښین مهال د پېغلې کور ته ورسېږي او هلته ځای په ځای شي، زوم د خپل کلي په شان په تخت کیني، بیا د پېغلې له کوره یو لوی پتنوس راشي چې د نقلو، شرینیو او قند دسمال او د زوم جامې پکې اېښې وي. په دې وخت کې ملا راشي او د پېغلې له پلاره یا ماما څخه وپوښتي چې دا خوږه د څه له پاره ده؟ هغه ورته ووایي چې د خېښۍ له پاره. بیا ملا له وکیله څه شرعي پوښتنې وکړي. د ایجاب او قبول شرعي دود په ځای او مقدماتي نکاح وتړي، له دې وروسته خلك (لوی دسمال) ورسره واخلي او رخصت غواړي. په لغمان کې د زوم او پېغلې کورنۍ خپلو- خپلو مېلمنو ته په خپله ډوډۍ ورکوي؛ خو داسې هم کېدای شي چې ټول د پېغلې په کور کې ډوډۍ وخوري. په لغمان کې له خوړې څخه وروسته، د زوم کورنۍ ته د (پایوزاي) مېلمستیا کوي او بیا نو زوم کولای شي چې کله نا کله د خپل خسر کور ته لاړ شي، هلته شپه یا شپې تېرې کړي او چغلبازي وکړي(په لغمان کې د واده دودونه، 20-21).
د غزني او کلات تر مینځ پښتانه له (هوکې) څخه وروسته، کله چې وخت مناسب وبولي او د ولور یوه بله برخه پیسې هم پیدا کړي (دا خلك د ولور یوه اندازه پیسې د هوکې په وخت کې ورکوي)، نو د (زوم ښکاره کولو) ته چمتو شي. په ټاکلي روځ د زوم پلارګنۍ کور سر یو – یو نارینه او یو څو ښځې راوغواړي او د زوم په ملتیا د پېغلې کور ته روان شي، دوی په لاره کې د ټوپکو څو ډزې هم وکړي چې خلك یې په تګ خبر شي. دا ډله E یو سړی د خبر له پاره مخکې د پېغلې کلي ته استوي، کله چې مېلمانه ورسېږي، ځنې ښځې د پېغلې د کور دروازه وتړي او تر هغه یې نه بېرته کوي چې د زوم نژدې خپلوان لږ پیسې ورکړي، له دې وروسته کورواله او کلیوال له مېلمنو سره روغبر وکړي او کور ته یې ننباسي.
د شپې له ډوډۍ وروسته یوه ښځه نکروزې راوړي او د ټولو لاسونه پرې سره کړي. د سیمې خلك دغه دود ته (لاس سره) وایي. په سبا سهار دا کسان لږ پیسې ټولې کړي او هغه ښځې ته یې ورکړي چې بېګا یې نکروزې ورته راوړې وي. د سهار له چایو وروسته نور مېلمانه رخصت شي؛ خو زوم او یو بل مشر سړی د پېغلې په کور کې پاتېږي. مشر سړی د دې له پاره چې زوم د یوازیتوب احساس ونه کړي او په دې ځای کې ځان پردی ورته ښکاره نه شي. له دې وروسته خواښې راځي او له خپل نوي زوم سره د پېژندګلوي او هرکلي لیده کاته کوي (د پښتنو دودونه، ص 13- 14).

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

[21] رومال- ریمال- دسمال: دري کلمه، یو ښایسته ټوټه ده چې په ستن جوړېږي. د دې رومالو ټوټه معمولاً ورېښمین وي او د ورېښمو په تار جوړېږي. مربع وي او له متر څخه وړوکی وي. د دې دسمال په څلورو ځنډو ځوندې ځوړند وي او د رومال په مینځ کې (ستن) ځای په ځای کېږي. ځنې خلك دا رومال د نښې رومال یا دسمال بولي.

[22] - ستن: د پېغلویا ناویو لاسي کار دی. ستن معمولاً یو مربع (75×75cm) ټوکر دی چې رخت یې پورته خوا ته بیا په مثلثي توګه پای ته رسېږي. ستن په زرتارو – قبو او ایینو په ډېره ښکلي توګه جوړېږي د ستنې په کونجو پورې اصیل زر – لونګ – غنم – پچي او مالګه ګنډل کېږي چې دا بالترتیب د شتمن کیدو، د واده د ښه خوند، د غلي او مال د ډېروالي او د واده د دود د مالګینتوب مانا لري. کله چې کورواله ستن خپلو نویو خېښانو ته سپاري؛ نو په جوړ شوي رومال یې وتومبي او بیا یې د مېلمنو جرګې ته وروړوي. ځنې مشران مېلمانه دا رومال او ستن ګوري او د کار ښه والی یې ستایي.

[23] په وردګو کې پخوا د ګلانو د ټوکرې د ورکولو دود نه و، ښاري افغانانو به دا کار کاوه. اوس، اوس ځنې وردګ د کاغذي ګلانو ټوکري د خپلو نویو خېښانو مخې ته ږدي چې دا د ښادۍ نښه بلل کېږي. په بدلو کې د ګل ستاینه پخوانۍ ده؛ خو مطلب یې همدا رومال او ستن وي، نه د کاغذ ګلان!

[24] ګردنۍ: هغه وسیله ده چې د خره یا آس تر غاړه تړل کېږي او بیا رسۍ یا ځنځیر په دغه ګردنۍ کې اچول کېږي. پخوا ناوې په وردګو کې معمولاً په آس باندې وړل کېده، د دغه آس ګردنۍ به ډېره ښایسته وه او له رنګارنګ ټوکرانو څخه به په ډېر ډول او سینګار جوړېده.

[25] په لغمان کې د واده د دودونو د کتاب لیکوال د واده په بېلابېلو پړاوونو کې د داسې سوغاتونو ذکر نه کوي.

[26] کوبه- قبه.

[27] سرۍ- یو ډول ګڼه ټیټه ونه چې سرې وړې- وړې مېوې کوي.

[28] پکتیاوال له دعا څخه څو روځې وروسته د ځوان له خوا څو ښځې، پېغلې او ځوانان د (پښه ارتې) یا (پښه ماتې) په نامه د پېغلې کور ته ورځي. پکتیاوال دې ته (کمکی خوړه) وایي. د پېغلې کورواله مېلمنو ته خوندوره ډوډۍ، د جلکۍ دسمال او ستن او ښه - ښه سوغاتونه ورکوي. پکتیاوالې ښځې د ستنېدو په مهال خپله ستن داسې ستایي:

ګورګورې توري، سرې یې لمنې
دیسمول(دسمال) یې روور (راوړ) د څنیورې E
داسې ښکاري چې په پکتیا کې د واده له بدلو سره لنډۍ یو ځای ویل کېږي، لکه دا:

د غرو ځځغو ته دې ورکړم — ریمول یې روور د څنیورې
د لاس بنګړي مې موته وي (ماتوي) غوښې مې خورینه — ریمول یې روور د څنیورې
ګورګورې توري، سرې یې لمنې — ریمول یې روور د څنیورې

یا:

د کوبل (کابل) د منو بوی روغی(راغی) شموله (شماله) — څه اجب (عجب) خبر دې بیا روور
ګل د ګلاب به خدای رانکړي — څه اجب خبر دې بیا روور ریماله
د نورو ګلو مې باغچې ویلوړې (ولاړې) دینه — څه اجب خبر دې بیا روور ریماله
د کوبل د منو بوی روغی شموله — څه اجب خبر دې بیا روور ریماله

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ